جهان الله هدایت.

۲۰۱۰/۰٤/۰۳م

# هزاروو یوځل بیا دمیدان وردګو ولایت دبهسودو سیموته
## دکوچیانو دنه تګ په اړه خپلی مبارزې تیزې کړې

دمیدان وردګ ولایت دیوې باورې امنیتي چاراواکي چې دنوم ښودلو څخه یې ډه ډه وکړه وویل چې د ۱۳۸۹ لمریز کال په پیل سره په کابل کې دهزاروو بعضي سیاسي ګریو دمیدان وردګ ولایت دبهسودو دلانجمنوځمکو پرسر چې یوکال دمخه پرې ډیرې وینې توې شوې ناسم پروګرامونه پیل کړې چې دوئ هڅه کوي دغه موضوع یوځل بیا په سیاسي موضوع واړوي او خپل شوم هدفونه پکې ترلاسه کړئ.

نوموړي زیاته کړه چې پرون د وري په ۱۳ نیټه دکابل په برچي دشتي کي پرون یو نهه کسزیز باصلاحیته پلاوي هزارجاتو او د کوچیانو سرځایونو ته د کوچیانو په نه تګ هراخیزه خبرې کړئ او باالاخره دې نتیجې ته رسیدلي دي چې هرډول د ممکنه لارو څخه کار واخلي او دکوچیانو دتګ مخه ونیسي، چې نهایي پریکړه پدې شوې چې ټوله سیمه دې دماینونو پواسطه فرش کړئ تر څو کوچیان د زیاتو تلفاتو په ورکولو و نه توانیږي چې سرځایونو ته ولاړ شي،

ښاغلي چاراواکي دنهه کسزیزه کسانونومونه پدې ډول یادکړل،

۱. محمد محقق د کمیسیون مشر په توګه
۲. سیما ثمر دبشردحقونو خپلواک کمیسیون مشره
۳. قاضي رمضان
٤. سنګر دوست په ملي شورا کې دهزاروو استازې
٥. رضایي په ملي شورا کې دهزاروو استازی
٦. سیدهادي هادي د تیرکال دهزاروو دجنګي جبهې مشر
۷. فاطمه نظري
۸. محمدي مشهور په عبدلزي
۹. فهیمي د هزارو وکیل

همدارنګه نوموړي زیاته کړه چې تراوسه د همدغه موضوع لپاره دایران نه زیاتي پیسي او ۱۳ بوجۍ چاپ شوي کتابونه دمیدان ودرګ ولایت د دایمیردادو ولسوالی ته دځلورو تنو پواسطه انتقال شوي چې نومونه یې ضامن علي محمد، حاجی احمد، سیدمحمدجوادي او توسلي دي.

هغه وویل چې دایمیرداد ولسوالی هزارو دجنګ دلومړي خط په توګه ټاکلي ده.

پایان


افغان جرمن آنلاین په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ